مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو
۲۰۲۴/۰۷/۲۳

# بدمرغه شیشه

زه یم هغه کم نصیبه ګنه ونه
چې یې څانګې له میوې وروسته مړې کیږي
لکه مزی د یو ښکلي کاغذ باد ناڅاپه پرې شي
ورسره هم لوبه پایته ورسیږي
اې
ما د ګلو په کمیس کې
لکه زوړ کنګل په غیږه کې اوبه کړه

* * * **

زه یم هغه په ځوانی کې زړه شوې دنګه ونه
چې توپان یې ستړی سیوری
شیبه نه پریږدي په ځمکې باندې ښملي
کاشکې راشي
دې توپان نه په خوړو خوړو منګولو
زما خور سیوری راټول کړي
پیری وشوې یو ماشوم د یو زمري غیږه کې پروت دی
کاشکې راشي
ستا په ښکلو قدمونو دریدلي پتوني ګلان زخمي کړي
هم وحشي نازک عطرونه یې د زلفو په ګوزار باندې مات کړي
دلته ټول ستا له عذابه خوند اخلي
هر ژوندی غواړي پرهر یې ستا په مالګو باندې خیشت وي
راشه راشه
اې له غره نه ښکته شوې ښایسته پیغلې ډبرې
اې ته ولې نه پوهیږې ؟
اې ته ولې په شیشې باندې ماتیږې ؟
د منو د سرو او سپینو خوشبویانو
په ګوزار هم زخمي کیږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

تنکۍ ګوتې لکه ځو رنګين برسونه
په دې څمکې باندې کيږده
زما قد ته يو شين سيورى نقاشي کړه .




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ